وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

٤ صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

په سروبي او لته بندکي دملحد دښمن پنځه پوستي فتحه شوي

اناډ: ۲۰-۷-۱۳۷۰
په رارسېدلو خبرونو کي ويل کېږي چي نن زموږزړوروومجاهدينو دکابل - جلال آباد دلويي لاري په اوږدوکي دملحددښمن په پرتو ځالو بريالي عمليات تر سره کړل ددي عملياتو په لړ کي مجاهدينو پوه پوسته دسروبي په سر اوځلور نوري په لته بند کي فتح شوي ،همداراز له دي ځايه دکابل ښار برېښنا هم غوڅه کړاي شوه .

په خبرکي دا هم راغلي چي فعلاً دکابل - جلال آباد لويه لار په سروبي اوتورغر کي تړل شويده .

ديو بل خبر له مخي نن سهار دننگرهارولايت مومنو مجاهدينو دجلال آباد ښار امنيتي پوستي اوپه هغه سيمه کي دملحد رژيم نظامي ځالي ددرنو توپونو او توغنديو تراورلاندي ونيولي چي دښمن ته يي زيات ځاني اومالي زيانونه واړول.

دکابل رژيم واکدارانو ويلي دي چي دسلوتنو په شاوخوا پلويان يي مړه اوټپيان شويدي.

الهي فرمان

لوي خداي جل جلاله فرمايي:
اي پيغمبره ! له کافرانو او منافقانودواړوسره په پوره طاقت مقابله وکړه اوله هغوي سره ډيرسخت چلند وکړه ، په پاي کي دهغوي استوګنځي دوزخ دي او دهغه داوسيدو ډير بدځاي دي
التوبه ۷۳آيت

شماره مسلسل (۳۸۷) سال چهاردهم ،شماره (۸۳)يکشنبه (۲۱)ميزان ۱۳۷۰ هـ .ش-(۵)ربيع الثاني ۱٤۱۲ هـ.ق- (۱۳)اکتوبر ۱۹۹۱م

څوك چي په جگره کي مطرح نه وي ،سوله هم نه شي راوستلاي (حکمتيار)

له نجيب ،خالقيار اودهغه دفعلي نظام له واکدارانو سره چي هرڅوك دائتلافي حکومت جوړولو ترنامه لاندي ملگري شي ،انجام به يي دنجيب په شان وي

دمجاهدينو له موافقي نه پرته نه جگړه پاي ته رسيدلي شي اونه امن قائميداي شي

گاونډي هيوادونوته زمونږتوصيه داده چي داستعمارگرانوله پلانونو سره ملگريتاونکړي

بنام نظامیکه بی اندازه مهربان نهایت ملهم امت

سر مقاله

دسياسي حل شوم مثلث دنړيوال کفرداهدافو هينداره

دکمونيزم له ماتي وروسته چي دتش لاسوخوايمانداړو افغانانو په وسيله دخپل عمل سزاوروورسيده، دامريکا په مشري لوديزي پانگوالي نړۍ دخپلو گټوپرضد پوالځي اسلامي دنيا دښمنه وگڼله ، اودړوسي ځل لپاره يي دخپلو مظالمو اومفاسدو ښېه وگرځوله . رښتياهم اسلامي نړۍ ديوه گډمرکز دنشترالي اودخپل غيرمتشکل بدن دددرلودلوله کبله پدي ونه توانيده ، چي دکفري دسيسو لپاره آگاه اوبيښ بينه اوسي، په همدي ناآگاهانه حالت کي پري دخليج زخم وزغمل شو، اودخليج دفتحي پروخت دنړيوال کفردسترنماينده "بوش " له خوا دنوي نړيوال نظام تيره کيښودل شوه ، خو چي دغه نوي نړيوال نظام له هري مخي وخيړل شي، نوپه سلوکي سل تري څرگنديږي چي داسلام ، مسلمانانو اوداسلامي تهذيب دوږخ په وږخ پرمختلونکي خوځښت مختيوي او له منځه وړل يي مرام دي . اسلامي نړۍ چي تراوسه دسري امپراتورۍ له خوا اغفاليده ، او بيا مجاهدوافغاني شاه ځلمو داسکوت مات کړ، اواسلامي هنگامو دختيځ اولويديځ په لمنوکي دخوځښتونو اوربل کړ، نودنړيوال کفرمخه بيځي مسلمانانوته راواوښته ، او وادي، نن سباچي روس دگوډاگي نجيب په ملاتړستړي شوي، نوامريکا ورته ټېر وهلي، او پوځي اکمالاتو سربيره يي دسياسي بهيرترچلوتوپوري پدرگه کوي، او داټول مسئوليت يي پخپله غاړه اخيستي دي . دهيوادشمولوسرتاسري عملياتوله اعلان وروسته دنړيوال کفر په سرمداري دسياسي حل دسيسه دومره ، تبليغ کيږي ، چي دمرتجعينو په خوله کي يي دستايني اوحقانيت ثابتولو لپاره الفاظ پاتي نه شول، خوکه څوك دموضوع ژوروته وړننوځي، نوڅرگنده به شي، چي تړلوړومبي دملگرومليتونو سرمنشي هغه دريځ خپل کړي، چي جهاني حيثيت نه بلکي دستروځواکونو ترجماني کوي . اوبيا چي دسياسي بهيردي لړۍ ته وگوري، نودنجيب وړانديز په اصل کي دروس اوامريکا دشومو اغراضو انعکاس دي، اوداهلي ځلي ددي لپاره کيږي، چي دوطن گوند واکمن پاتي شي . په اصطلاح دسولي دامثلث گوډاگي رژيم ، مجاهدنامليي گراپانو اوظاهرشاه اوملگروپي تشکيل کړيدي، خوڅوك چي په جنگ کي نقش نه لري، نوهغوي په سوله کي څه رول لوبولي شي؟ دژنيو دخبرواترو مرام همداو، چي منځ لاري ، پخواني پاچااودگوډاگي رژيم منسوبين سره يواودنړيوال کفر په فکروخيال دافغانستان دربري ددوولوريو په صفت يي له گډون او نژديکت نه يومخلوط حکومت رامنځ ته کړي . خوڅوك چي

۳مخ

خالقياريو بي طرف اوغير کمونيست شخصيت دي مجددي

جنگ راولپنډي :
دجبهه نجات ملي مشرحضرت صبغت الله مجددي تيره ورځ له نيويارك نه اسلام آبادته راورسيد، نوموړي داسلام آبادپه هوايي ډگرکي دميډيا له خبريال سره په مرکه کي وويل چي دافغان ستونزي په هکله دشوروي پيشنهاد اصلا دنجيب پيشنهاد وو چي ديوريس پنکن په خوله وړاندي شو، مجددي وويل خو ترکومه چي زه معلومات لرم فضل حق خالقيار يوغيرکمونست اوبي طرفه شخصيت دي ، خوبيا به هم زه دهغه سره دحکومت په هکله له استادسياف اواستاد رباني سره مشوره کوم ، همداراز حضرت صاحب داهم ويلي چي په نظرکي ده په ژنيو کي د . ۱۵ تر. ۲۰ تنو پيژندل شوو افغانانو يوه غونډه جوړه شي، هغه زياته کړه، که چيري اکثريت افغانان دظاهرشاه په پلوي رايه ورکړه نوزه هم دهغه ملاتړکوم بايد ووايوچي له دي وړاندي دنجيب کابينې داخيره تصويب کړي چي حضرت مجددي دافغانستان دجمهوررئيس په توگه ومني ، که څه هم مجددي ددي خبري په ځواب کي څه عکس العمل نه دي ښودلي خوتيره ورځ يي له بي .بي . سي سره په مرکه کي دمجاهدينو له نظامي عملياتو اوحکومت سره مخالفت څرگندکړ اودسياسي حل غوښتونکي شو، هغه وويل چي مجاهدين دافغانستان امنيت نشي ساتلي ځکه چي په ځوښاروټو کي چي دوي حاکم دي دامنيت په راوستلو کي ناکام شويدي دحضرت مجددي داخبري په حقيقت کي دنجيب ورځنيو خبرو ته ورته دي چي دمجاهدينو پرخلاف يي زمزمه کوي .

دسرخرود دولسوالي اتل قوماندان مجاهدوروزانجنيرذبيح الله شهيد شو

په هغه رپوټ کي چي دشهادت ورځپاڼي اداري ته رارسيدلي ويل شوي چي دننگرهار ولايت دسرخرود ولسوالي اودشهيد زاهد ابراهيمي دقرارگاه عمومي قوماندان قهرمان او مؤمن مجاهد وروراانجنير ذبيح الله دروان کال د تلي دمياشتي په ۱۹ مه نيټه دجمعي دمبارکي ورځي دمازديگرلمانځه اداکولو وروسته دخپل يوتن مجاهد ورور ولي جان سره د ددښمن د DC توپ د مرمي په لگيدو دشهادت لوړ مقام ته ورسيد.

په خبرکي ويل شوي چي شهيدانجنير صاحب ذبيح الله په همدغه ورځ پرجلال آباد ښار باندي دژرتر ژره کيدونکي تعرضي حملي دپيليدو په خاطر د درندو وسلو اهداف مشخص اوخپله يي په دشت غازي کي ددښمن پوځي مراکز تر اورلاندي ونيول چي دښمن ته ډېر ځاني اومالي تاوانونه وورواوښتل ورپسي دسبحان شاه قرارگاه ته راغي اوسمدلاسه دحاجي صاحب کريم قاځي ته روان شوچي دلاري په اوږدو کي دبالاباغ دکلي د جنوبي برخه درښتانو په کلاکي ددښمن د DC توپ دمرمي په لگيدو سره شهيد شو. دده سره دوه تنه نورمجاهدين هم پدي پيښه کي ټپيان شويدي.

شهيد انجنير ذبيح الله په ۱۳۵۲ ه ش کي داسلامي تحريك وياړلي غړيتوب ترلاسه کړ چي دغه درونډ امانت يي ترمرگه پوري په پوره اخلاص اوسرښندني سره وساتلو . ده په کال ۱۳۵۸ کي دشهيد زاهد ابراهيمي ترقيادت لاندي دننگي وزيري په سيمه کي په وسلوال جهاد لاس پوري کړ.

شهيد انجنير ذبيح الله په بي شميره عملياتو کي برخه اخيستي چي داکثروفتيوحاتو اوعملياتو قومانده مستقيما دده په لاس سرته رسيدلي .

دشهيد انجنيرذبيح الله جنازه پرون دشتي په ورځ چي دتلي دمياشتي له ۲۰ نيټي سره برابره وه دماسپښين په يوه نيمه بجه دامام محمد شيباني (رح) جامع جومات ترڅنگ دجنازي لمانځه دادا کولووروسته دنصرت مينې په هديرې کي دخپل پخواني مشر شهيد زاهد ابراهيمي ترڅنگ په درناوي سره خاوروته وسپارل شو.

دفاتحي مراسم ددوشنبي په ورځ دتلي دمياشتي په ۲۲ نيټه دنصرت مينې په جامع جومات کي دحزب دقيادت دننگرهار ولايت دجهاد دامارت دسرخرود ولسوالي دمجاهدينو اودشهيد دکورني له خوا دسهار له ۸ نه دغرمي تر ۱۲ بجو پوري اخيستل کيږي.

دافغان ولس هلي ځلي وروستي بري ته رسيدلي دي نوازشريف

هريپور :
دپاکستان صدراعظم محمدنوازشريف ويلي څرنگه چي دافغانانو هلي ځلي دخپلواکي لپاره دي، نوله همدي امله پرپاکستان کي افغان مهاجرينو ته ځاي ورکړل شو، هغه وويل مونږدافغانانو زامن امانت بولو دپاکستان حکومت دافغاني زامنو دتعليم اوتربيي لپاره دمناسب بندوبست هڅه کړي اودابي يوه اسلامي وجيبه بللي ده ، هغه وويل دازما دخوښي باعث ده چي زه دافغاني يتيمانو دتربيتي مرکز دتهداب ډبره ږدم ، دهغه مرکز چي دمورراوپلار له شفقت نه دمحرومورزامنو تعليم پکي کيږي ، دغه خبري نوازشريف په هغه محفل کي کولي چي د"حواچلردن هوم" په نامه دافغاني يتيمانو لپاره يوتعليمي مرکز دتهداب ډبره ايښودل کيده .

نوازشريف په دي محفل کي وويل اوس دافغانانو ولسي هلي ځلي وروستي ته بري ته رسيدلي دي .

په کندهارکي ددښمن ٥ تنه پوځيان وژل شوي اودري عرادي پوځي وسايط له منځه وړل شويدي

ميديا دکوېټي څخه دبيلابيلو منابعو دخبروټو په حواله دشهادت ورځپاڼي اداري ته خبوورکوي چي دکندهار ولايت مومنو مجاهدينو دروان کال دتلي دمياشتي په پنځسمه نيټه دنوموړي ولايت مرکزته نږدي دصوفي صاحب په سرك کي ديوځاي پرځاي شوي ماين په واسطه دملحدرژيم يوعراده زغروال ټانك سوځولي . دري تنه عسکراوملیشي يي وژلي اويوشمير نوريي ټپيان کړيدي .

همداراز ديوبل خبرله مخي مجاهدينودتلي دمياشتي په دوهمه نيټه دنوموړي ولايت دپاخه سرك په اوږدوکي درژيم پرهغي قواوچي غوښتل يي دمجاهدينو پرسنگرونوباندي غلچکي بريدوکړي ديوي متقابلي کمين گيري په نيولوسره پرنوموړي قوابريدوکړ چي په هغه کي دوه تنه عسکروژل شوي اويوشمير نوريي ټپيان شويدي . همدارازدوه عرادي جيپ موټرونه اويوشمير وسلي اوپوځي مهمات مجاهدينو وځه کړيدي .

په رپوټونوکي زياته شوي چي مجاهدينوته په دغو بريدونو کي کوم زيان ندي رسيدلي

دلوگرولايت دامنيتي کمربند څوپوستي فتحه شوي

لوگر دتلي (۱۱) مه
دلوگر ولايت دبرکي برك ولسوالي کفرځپونکوغازيانو دنوموړي ولايت امنيتي کمربند ترخپلو بريالبوبريدونولاندي نيولي اوکمونيست رژيم ته يي دځان اومال درانده تاوانونه اړ ولي دي په هغه رپوټ کي چي د خيبر محاذ څخه ترلاسه شوي ويل کيږي.

مجاهدينو دروان کال دتلي دمياشتي په (۱۱) مه نيټه دلوگر ولايت امنيتي کمربند تر خپلو بريدونو لاندي ونيو چي په نتيجه کي دنوموړي کمربند څوپوستي فتحه اوگڼ شمير کمونستان ووژل شول.

خبر ځاي ليکي :کمونست رژيم دخپل انتقام په بدله کي دوهم ځل په تعرضي بريد لاس پوري کړ چي دمجاهدينو ديوره مقاومت په نتيجه کي دملحد پنو تعرض په شاوتمبول شو. پدي بريد کي له مؤمنو غازيانو څخه توريالي ،نصرالله ،عبدالحميد جان محمد ټپيان اوداسلامي انقلاب ريښتني سپاهي مجاهدورور گل زمان "کوچي" دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

روح يي دي ښاد اوياديي دي تل وي.

دشهيد محمد سميع لمړي کاليزه

٤ مخ

کسانيکه بخاطر کسب اقتدار ازاختلاط با عناصرکمونيست ولبرال عارندارند ، دشمنان جهادانند

دکمونست رژیم دکابینې پریکړه اودحقایقو رابرسیره کیدل

ننګهار

دافغانستان دمستلي په باب چېك بدلونونه چې دسرتاسري عملیاتو په بهیرکي راروان دي ، دي حدته ورسیدل چې دکابل دکافررژیم کابینه دصبغت الله " مجددي "ریاست دراتلونکيجمهوري دوري لپاره تصویب کړي .

شاید دکافررژیم دغه رسمي پریکړه به دډیروخلکواومجاهدینو دتعجب وړگرځیدلي وي، چې ځنګه زموږ دیونیم ملیون شهیدانو قاتلان دمجاهدینو له منځه یویه اصطلاح رهبر ! دخپل جمهوررئیس په حیث ټاکي ؟ ! هغه چې لاتراوسه دلته په پیښورکي دمجاهدینو دمنحل عبوري حکومت رئیس دي ظاهراً په رښتیا دتعجب اوحیرانتي وړده ، ولي که حقیقت ته ځیرشو دادهغه طبعي حرکت نتیجه ده چې دملي گرايي انجام له کمونستي فاسداو انساني ضدنظام سره تړي .

که دجهاد په موده کي دمجاهدینو په صفونو کي دمجاهدترنامه لاندي دملي خاننانو اویه پرده‌پوري دتړلیوعناصرو تخریبي حرکتونه اویه یوه اوبل نوم دجهاد دکمزورتیا اوناکامي لپاره دهغوي منظلقانه هڅي ترڅیړني لاندي ونیسو ، بې له شکه به داراته څرګنده شي چې دکمونست رژیم دوزیرانو دشوراپریکړه دیوحقیقت راڅرگندیدل اوبرښیدل دي .

دکابل دکافراوجنایت کاررژیم دوزیرانو دشورادغه له شرمه ډکه پریکړه ، دمجاهدینو له پاره خاص پدي خاطر دافسوس وړده چې دهغوئ قاتل اودښمن رژیم دهغوي له منځه اویه اصطلاح دهغوي دموقت حکومت رئیس دخپل حکومت دجمهوررئیس په حیث ټاکي ! کنه دمهربان خدای (ج) فضل اورحم ؤ چې دغسي خطرناکه اودجهادپه خادرکي پټې څېرې بې رابرښېډي کړي، هغه چې که وېرته وو دیوځه شمیر خلکو اوپاك زړو مسلمانانو دتېرویستلو سبب شوي وو .

اوس نودهیوادلوي وي که ورڅکي پدي بي سرخلاص شوچې دجهاد واقعي خواخوږي اوترپردي لاندي دښمنان څوك دي ؟ ځیني شاید دالګروکړي چې دروژیم دغه پریکړه دهغه دکمزوري او دروس اوامریکا دفشارنتیجه ده چې دمجاهدینو له منځه یومشر خپل جمهوررئیس ټاکي . ولي حقیقت دادي چې دروس اوامریکا دجوړي سره سم دهغوي ولي، هغه چې په خپل منځ کي نه عقیدوي اختلاف لري اونه سیاسي، بلکه دغه سلیقوي دسمن " مسلمانانو " په مقابل کي اوږه په اوږه دریږي اویدي دول دخپلو بادارانو دلطف اومهرباني وړگرځي .

تردي وخته خودمجاهدینو زیاته پاملرنه دروس اودهغه دجاسوسانو اوتوکرانوپلوره اوتروېره خده بي له خپل صف نه رټلي وو، ولي تردي وروسته به دامریکا دځېراومزدورانو دتوطیواوخیانات دشنډولو لپاره ځانونه چمتوکوي . دامریکایي جاسوسانو " هغه چې دنجیب دمیري زامن دي " درټلوپه نتیجه کي به ایله داسلام دربښتینو پیروانو صفونه پاك شي اوبیس له هغه به حتمي دیرواقعي اتحاد اویووالي شرایط برابرشي .

تراوسه پوري دمجاهدینو داختلاف اوګډوډي عمده عاملین همدغه دنجیب دمیري زامن وو دچا چې پرورش اوپالنه دامریکا پواسطه سرته رسیدلي اووخت ناوخت بې دجهادي ځواك دتفاق اورته لمن وهلي.

که مزدور رژیم دغه پریکړه پدي امید کړي وي چې پدي توگه به مجاهدین له مقاومت اوعملیاتو لاس واخلي اویا به دجهادي متعهد قیادت په وړاندي شکمن شي او کرار، کرار به د رژیم په گټه له جهاده گوښه شي ، نوښکاره ده چې مجاهدین به په هیڅ صورت کي دافغانستان تر کاملي آزادي اودیوسوچه اسلامي حکومت ترمنځ راتلو پوري له جهاده لاس وانه خلي ،لکه چې همدااوس بې په بوټینگ اتحاد سره په سرتاسري عملیاتو کي برخه اخیستي اودمهربان خدای (ج) په مرسته مخ په وړاندي ځي.

همدارنګه پوالحي مجاهدین ته چې دافغانستان هرمسلمان وګړي ته دربښتني اوجعلي قیادت په هکله پوره معلومات شته ، هغوي دجهاد په داتیرو دیارلس کلونو کي لیدلي چې څوك د استعمار او بهرنیوپراختیاغوښتونکواوگټه لټوونکو نوکران دي اوڅوك دافغانستان دواقعي اوکاملي آزادي او رېښتوني اسلامي حکومت غوښتونکي اوراوستونکي دي څکه دلویدیځ ، ختیځ ،دسیمي دماجراغوښتونکو اوکورنیو خاینانو دلسونونو اوگواښونو سره ،سره بیا هم دهغه چا په خوا کي دریدلي اوقومانده بې په سرسترگومنلي ،څوك چې همدا اوس دسرتاسري اوهماهنگو عملیاتو په توپاني بهیر کي له خپلو اتلو مجاهدو ورونو سره اوږه په اوږه روان اوجنګیږي .

دکابل کمونست رژیم تر دي مخکي هم ډیري پریکړوکړي اوډیر داموته بې کیښودل لکه : انتخابات ، لویه جرگه ، دالقوامو او قبایلوجرگه ، یوطرفه وژنندي ، ملي روغه جوړه او ...... ولي زموږ هوښیار اویه اسلام مین ملت دخپل ایمان محکم هوډ اوله خپلو قدرمنو شهیدانو سره دوفا په دوه هغه ټولي توطیي خنثي اویه اوبولاهوکړي ، کفردکابل دمزدوررژیم په بڼه وي اوکه دیبطرفه عبوري حکومت په بڼه توپیرنلري.

که روس اوامریکا غواړي چې زموږ دیونیم ملیون شهیدانو قاتلان اوزموږ دسمسوراوښکلي هیواد ، دورانېدو مسؤلین دځوتنو قدرت طلبو په اصطلاح رهبرانو ! تروزرونو لاندي پټ اواسلام داسلام په نامه وځپي اویه نړي کي چې کوم داسلام غوښتني ځپانده بهیر رامنځته شوي اوټول امیدونه بې زموږ پراسلامي حکومت پوري تړلي ، په نطفه کي نابودکړي ان شاءالله دمهربان خدای (ج) په مرسته به بې کله هم دا آرمان پوره نشي ځکه دهغوي اسلام دښمني اوشیطاني څېري اوس هرچاسي پیژندلي. -

---

څوك چې په جگړه کي مطرح نه وي ،سوله هم نه شي راوستلای

حکمتیار

> دافغانستان داسلامي حزب مشر انجنیر گلبدین حکمتیار په هغه رسمي بیان کي چې دحزب اسلامي افغانستان دسکرتریت له خواخپور شوي په افغانستان کي دکابل درژیم له پلویانو سره دائتلافي حکومت جوړول ردکړي اوویلي بې دي .

له نجیب ، خالقیار، اودفعلي نظام دواکدارانو له جملي څخه دهرچا سره چې څوك دمشترك اوائتلافي حکومت دجوړلو ترنامه لاندي له دوي سره ملگري شي انجام به ئي دنجیب اودده دملگروانجام وي، مجاهدین داکاردنجیب دملي مصالحي پروگرام ته ددوي تسلیمیدل گڼي .

ضعیف شخصیتونه او ضعیفي ډلي چې نه په جگړه کي څه رول لري اونه دسولي په راوستلو کي څه کولای شي شاید دي کارته زړه ښه کړي اودجهاد په ځاي دنجیب ملي مصالحي ته ترجیح ورکړي او دنجیب دوروستي پیشنهاد سره سم له خالقیارسره دائتلافي حکومت جوړولو ته تیارشي، خودوي دي په دي وپوهیږي چې په دي ترتیب به دوي دخپلو هغو افرادو په شان دملت له لیکونه تجرید کیږي چې له نجیب سره ملگري شوي . په اخبارونو کیداي شي ددوي نومونه په جلي حروفوولیکل شي خو څرنگه چې دوي په جهادکي مطرح نه دي او په همدي خاطر دجهاد مخالفت کوي، هم دارنگه دسولي راوستلو کي څه رول نشي اداکولي هغه بهرني ځواکونه چې دافغانستان دقضیي په هکله دخپلو اغراضو په بناقضاوت کوي اوسیاسي مواقف بي له خپلو سیاسي مصلحتونونه منشاء اخلي حتما به ضعیف شخصیتونه او دضعیفو ډلو مشران انتخابوي، خودوي په دي خاطر په خپل مقصدکي تل ناکام پاتي کیږي چې په ضعیفي متکاتکیه کوي خپل اغراض بي نه پرېږدي چې واقعیتونه

مراعات کړي اوحقایقوته تسلیم شي، ضعیفي ډلي چې په ملت کي اعتبارنلري ناچارپردیو لمني ته لاس اوږدوي او دهغوي دلاس آله اودپروگرامونو دعملي کولو وسیله شي، خویه همدي کارسره دوي خپل حیثیت اواعتبار په قوم کي نورهم له لاسه ورکړي او لا تضعیف شي، که روسان، امریکا ئیان اونوردیدخل اطراف گمان کوي چې دمجاهدینو دموافقي نه پرته اوضعیفو ډلوته په استفادي سره

> جهادي ډلوته زموږتوصیه داده چې استعمارگرانو توطئوته متوجه وي، دهوکه نه شي اودنجیب اودهغه دملگروپه ځنگ کي یي دودریدو غلطي ونکړي

کولاي شي دافغانستان مسئله دخپلي خوښي سره سم حل کړي اودخپلي خوښي نظام او واکداران په افغان ولس تحمیل کړي سخته غلطي کوي .

دمجاهدینو دموافقي نه پرته نه جگړه پاي ته رسیدلي شي اونه امن قایمیدي شي مجاهدین به هلته وسله په ځمکه کیږدي چې :

١ – بهرني مداخلي متوقف شي

٢ – دنجیب حکومت نسکورشي

٣ – افغان ولس ته دمنلو وړداسي موقتي اداري ته قدرت انتقال شي چې نه دنجیب قاتل ملګري په هغه کي برخه ولري اونه دتیرو فاسدو حکومتونو واکداران اوپلویان بي .

٤ – بیا انتخابات ترسره شي اوقدرت منتخب اسلامي حکومت ته انتقال شي، واقعي سوله دهمدي لاري راتلي شي ، دجنگ اورته هرڅوك لمنه وهلي شي خوسوله به هغه څوك راولي چې په جنگ کي طرف وي . څوك چې په جگړه کي مطرح نه وي، دسولي په راوستلو کي هم هیڅ رول نشي اداکولي .

هغه څوك په ځنگه دسولي په راوستلو

کي رول اداکړي شي چې نن شپه کي دبهرنیو رادیوگانو له لیاري اودبهرنیو دخوشحالولو لپاره په گردیز اوکابل دحملي مخالفت کوي خودده له مخالفت

سره سم عملیات شروع کیږي اوخومره چې دي دجنگ مخالفت کوي همدومره جنگ تشدیدیږي اوحتي دده دپارټي افرادله هماغي راډیو نه اویوه ورځ وروسته اعلان کوي چې موږ په کابل باندي میزائیلونه فیرکړو.

استعماري ځواکونه په افغانستان کي سوله نه غواړي دوي یادخپلي خوښي حکومت غواړي یاله افغانستان نه لبنان

> استعماري ځواکونه په افغانستان کي سوله نه بلکي دخپلي خوښي حکومت منځته راتلل غواړي

جوړول همسایه ملکونو ته زموږ توصیه داده چې داستعمارگرانو له پلانونو سره ملگرتیاونکړي . داددوي په ضررده ، په افغانستان کي دیوه قوي منتخب ، اسلامي حکومت جوړیدل په افغانستان اوپدي سیمه کي سوله تامینولاي شي، باید واقعیتونه مراعات کړو. له ضعیفو ډلو اوضعیفو شخصیتونو له څه نه جوړیږي که څه هم لاس په نامه وددریدو اوسرخوځولو او دپردیو په قومنده

خوځیدوکي مهارت ولري . له هغه ډلو سره له تفاهم نه پرته دافغانستان مسئله نشي حل کیداي چې ملت ورسره دي، مجاهدین لري اویه جنگ کي مطرح دي .

افغاني ډلو ته زموږ توصیه داده چې داستعمار گرانو توطئو ته متوجه وي، دهوکه نه شي اودنجیب اودهغه دملگرویه ځنگ کي ئي دودریدو غلطي ونکړي، دښمنان غواړي بې هدفه اوضعیفي ډلي له نجیب سره اشتي کړي اوله دوي نه مشترکه جبهه اوائتلافي حکومت جوړکړي اودمجاهدینو په خلاف ئي وجنگوي، استعمارگرانو اوداسلام" دسمناتوته دنجیب بقا اهمیت لري، گمان

> دژنیوپه کنفرانس کي هغه شرکت کوي چې دسازش له لیاري دافغانستان په راتلونکي کي دڅه برخي ترلاسه کول غواړي

کوي چې پدي ترتیب کولاي شي هم نجیب وساتي اوهم داسلامي حکومت دجوړیدو مخنیوي وکړي .

خوباید ټول پوه شي چې هیڅوك نشي کولاي په افغانستان کي دیوه اسلامي منتخب حکومت دجوړیدو مخنیوي وکړي . سوله به دهغه چاپه لاس راځي چې په سنگرونوکي پراته دي .

داروپائي هیوادو په کنفرانسونو کي اودهغو ځیروترمنځ دخبرو اتروپه نتیجه کي سوله نشي راتلاي چې په ملت اودمجاهدینو په لیکوکي دپښتو ځاي نلري

په اروپائي هیوادوکي دداسي یونیم سل کسانو دکنفرانس په نتیجه کي څوك دافغانستان مسئله نشي حل کولاي چې په ټول افغانستان کي یونیم سل باهدفه مسلمان مجاهدین نلري، داسي کنفرانسونه اصلا دنجیب په پیشنهاد اودمسکو اوواشنگټن توسرپرستي لاندي اوددوي په مرسته اومصرف دائریږي اویدي کي صرف هغه کسان شرکت کوي چې له خپل ملت نه مایوس دي ، په جهاد کي برخه نلري اوله پردیو هیوادو سره دسازش له لیاري دافغانستان په راتلونکي کي دڅه برخي ترلاسه کول غواړي، دایوناکام کوشش

دی، گټه به ئي صرف داوي چې له نجیب سره سازش کوونکي څیري افغان ولس ته برښېډي کړي ، ملت ته به هغه خلك مزیدڅرگندشي چې پلار ، نیکه ئي دانگریزانو ملگرتیا کوله اوهغوي بې افغانستان ته راليږلي وو اوددوي اوس هماغه زاړه روایات تازه کوي دپردیو خدمت اودجهاد دسمني کوي .

ازبردگی اجباری تابردگی اختیاری

عبدالودود "در وازي"

نخست بدانیم که بردگي یعني چه ؟ وبرده داري چه چیزرا مي گویند ؟

درزمان گلشته وادوارسابقه وحتي امروز مصطلحاتي درکلمات فارسي استعمال شده که غالبا کلمات عام فهم بوده ومشکلاتي درفهم آن پیش نمیشود . اما بعضي این کلمات ساده قسمي تحریك آمیزبوده که مردم آنرایك اصطلاح سیاسي دانسته وازآن به نفع خوداستفاده نموده اند، بردگي نیزازجمله همان کلمات ساده وجامعي است که مردم ازآن بصورت هاي گوناگوني تعبیرکرده اند .

کمونستهاي بي مغزوماجراجوکه چندان ریشه تاریخي ندارند ازاین نوع اصطلاحات عوام فریب به پیمانه وسیعي استفاده کرده اند مثلا : دفاع ازحقوق کارگر ... نجات برده ها ... آزادي .... اشتراکي وغیره ...

امابه یك نقطه اساسي که عبارت ازاصل معناي آزادي وبردگي است پي نبرده اندکه این امورحقیقتا" دلیل واضح است براینکه کمونیزم فرهنگ وبرنامه ندارد وجزازشعارهاي میان تهي واصطلاحات چرب وسرزباني چیزدیگري نیست .

پس آزادي ازنظرکمونستها انحطاط ازدرجه انسانیت بدرجه حیوانیت که جز خوردونوش وظیفه دیگري، نداردمي باشد وآن هم درچوکات دولتي یعني تحت قانون اشتراکي مثل حیوانیکه صاحبش برایش علف مي دهد، امابه این قسم آزادي حتي حیوان هاراضي نیستندبلکه میخواهند خود ازدشت وصحرا بچرند، نمیدانم چراکمونستهابه آن راضي اند ؟ شاید کمونستهاازدرجه حیوانیت نیز پائینترفته باشند ورنه به کمونیزم افتخارنمي کردند .

وبردگي درنظرکمونستهاعبارت است ازپیروي قانونیکه اشتراکیت (کمونیزم) را تردید مي کند .

امابرده هاي اجباري نظریه اصطلاح عام وفرهنگ قدیم وجدید عبارت ازآنعده کساني اند که به علت هاي مختلفي تحت مراقبت مردم سرمایه دارقرارمي گرفتند ویادرجنگ ها اسیرمي شدند درزمان قدیم مردم فقیر وبیچاره که قادربه پیدانمودن غذاي خویش نبودند وتدبیر بهتري براي پیداکردن رزق بجزخدمت دیگران نداشتند بابه نحوي ازانحا؛ قید حریت خارج ساخته مي شدند و مشکلات آنهارا مجبورمي ساخت تاترك حاي نوده وبه مردمیکه تهیه قوت آنهارابه عهده مي گرفتند، ملحق شوند تااینکه این امربه سرحدي رسیدکه صاحب برده حق داشت که به غلام خود هرچه خواسته باشد بکند واختیارداشت که آنهارامثل حیوان هابه همدیگر جنگ بیندازد که دراثربرخوردبین دوبرده یکي آن کشته مي شدکه این عمل موجب فخرصاحب برده مي شدواین اندیشه باعث برآن شدکه مردم برده هاي قویتري داشته باشند واین کارسبب ترقي درتجارت

برده هاگردید"البته اکثرا بدبختي بالاي برده هاي اروپائي وروميي بوداگرچه درساحات فارس وعرب نیز ازوضعیت خوبي برخوردارنبودند

همه این کارهاپیش ازآمدن نظام نجات بخش اسلام بودوبه آمدن دین مقدس اسلام وطلوع خورشیدآزادي این قانون که برده هابه صفت حیوان زندگي کنند واختیاري نداشته باشنداززبین رفت واسلام این مکتب توحید، آزادي ، عزت ، رفعت ومنزلت برده هارابلند ساخت وآنهارا برادرخواند ، یعني برده برادر برده دارشدوبتدریج خداوند عظیم الشان باحکمت نهفته اش راه خلاصي آنهارا براي مسلمان ها هدایت دادوحتي آنرا ازعبادات قرارداده ازجمله اعمال صالحه قلمداد نمود .

واین سوال که چراباوصف اینکه خداوند قدیر وتواناراه هاي متعدد ومختلفي رابراي آزادساختن برده ها بیان داشته وآزادي آنهاراثواب بزرگ حساب نموده،نظام برده داري رابصورت قطعي ازبین نبرده وبرده ساختن وبرده گرفتن رابراي مسلمان ها حرام نکرده است ؟

باید بگوئیم که جواب آن تفصیل بیشترنیازدارد . تنها این قدربابد دانست که اگرخداوند برده هارا آزادمي ساخت به این مفهوم که نظام برده داري رابالاي مسلمان هاحرام مي ساخت پازهم کدام فایده اي برمسلمان ها وجهانیان آن عصرنبود زیراکه اگربرده داري دراسلام هم حرام مي شد روم وفارس ازآن دست نمي کشیدند بلکه مسلمان هاي اسیررا برده مي ساختند ومسلمان هانمي توانستند درآن صورت اسیران آنهارابرده بسازند پس درحقیقت مسلمان ها ازیك دستورمهم که عبارت ازمقابله بالمثل است محروم مي شدند بابه عبارت دیگر : چونکه روم وفارس ازنظام برده داري استفاده مي کردند ومسلمان ها رااسیر وبرده مي ساختند مسلمان هاهم درمقابل اسیران کفار رابرده مي ساختند ونظام برده داري بنابرضرورت ومصلحت ازبین نرفت وبصورت علني تحریم آن ازجانب خداوند اعلان نگردید .

چونکه این بنده بدبخت ازعبودیت خداوند سربازرده است وبه بندگي اواعتراف ندارد خداوند اورابه نحوي ذلیل ساخت که برده بنده هاي وي باشد، یعني چونکه این شخص صلاحیت بندگي خداوند رانداشت به سبب اصرارش برکفر بناء جزایش ازجنس عمل داده شد وبه قانون مروجه برده بندگان وي گردید

تااینکه تحت قیادت آن ها کارکند وازمزایاي اسلام برخوردار شود ونیز عقوبت نافرماني رابکشدوبعدازطي مراحل آزاد شود .

این بودفکرونظرکوتاهي دربیان بردگي اجباري اما ازبردگي اجباري تابردگي اختیاري نیز مراحل متعددي گذشته است که انحصار آن ازطاقت بنده برون است تنها نقطه اینکه ماضي رابحاضر وصل مي کند همان عدم فهم درست معناي آزادي وبردگي است .

آزادي یعني زندگي درسایه یك نظام کاملیکه همه خواسته هاي سیاسي ، فرهنگي وغیره در آن برآورده گردد درصورتیکه ضربه اجتماع نداشته باشد، بابه عبارت دیگر : ازحقوق خودبرخوردارشدن وبه یك اطمینان روحي زندگي کردن را آزادي گویند .

بردگي : یعني زندگي تحت یك فرمانیکه هم افعال انسان منوط به غیرش باشد، به عبارت ساده تر: بردگي یعني عدم قدرت استفاده ازحقوق خویش .

پس اگر درگذشته ها برده ها حق خودمختاري رانداشتند و برده اجباري بودند به این معناکه اگرفرصت برایشان دست مي داد خودرا ازبردگي خلاص مي کردند وحتي نیم روزي هم درآن باقي نمي ماندولي برده هاي امروزي بالقلب مملو ازمحبت پشت بادارخود روان هستند ونقش قدم اورامي بوسند وحتي برآن افتخار دارندواگر برده هاي اجباري ازبادارخودراه فرارمي یافتند برده هاي امروزي بهانه هامي سازند تاهمراه بادارخود باشند .

اگردرسابق برده ها از مجبوریت خودرامي فروختند وبابعدازطي مراحلي به صفت جنس درآورده مي شدندوبه بازارها عرضه مي شدند برده هاي امروزي مجبور الذبراي کسب قدرت وجلب اموال خود را آماده سازند تارنگ تجارتي رابخود گرفته ودربازار برده فروشي که هماناخیانت به ملت است حاضرشوند .

بنا" بعضي خودرا درتربیت هاي بدني شامل ساخته وسپورت هاي بین المللي رامي آموزندالبته نه بخاطر منفعت اسلام بلکه بخاطریکه از مدال طلائي در سالگرد ها محروم نشوند" که در نتیجه مقابله بین دو برده یکي آن خجالت ودیگرآن سرافراز میگردد ومردم از دیدن این قسم مسابقات چنان لذت مي برندکه بادارهاي سابق ازکشتن وجنگ کردن برده هاي سابق نمي بردند !

آري شما مي توانید حدس بزنید

که آیا فرقي بین این دونوع بردگي وجود دارد !! درسابق درمیدان شمشیر زني ها ونیزه بازي ها برده ها اجبارا داخل صحنه مي شدند وفعلا برده هاي اختیاري افتخارانه داخل صحنه هاي مسابقات مي شوند پس ازبردگي اجباري تابردگي اختیاري هیچ فرقي نیست تنها نقشه وطرح برده داري تغییریافته وبصورت مترقیتر وپیشرفته تر درآمده است .

این قسم برده ها تنها برده وبنده پول مي باشند وضررآنها متعدي نیست اما برده هابیکه تنها هدف آن ها کسب قدرت وسلطه دریك محیط ومملکت میباشد خیلي هامضربوده وتنها ضررش بخودش منتهي ومنحصر نبوده بلکه مردم آن محیط نیزدرآتش آن مي سوزند، براي توضیح بیشتر درموضوع نجیب گاووسلف کثیفش رامثال مي زنیم زیرااین برده وفادارکمونیزم نه تنها براي خوش ساختن بادارش سربه آستان کرملین سابیده است بلکه ملت قهرمان وباشهامت افغانستان رانیزمي خواهد بدان صوب سوق دهد وجاي شرم این استکه نجیب گاو ازحریت کامل افغان ها وتمامیت ارضي افغانستان گپ مي زند !

اگرنجیب واقعاً ازنوکري روس پشیمان گشته وبالایش بردگي اجبارا واکراها تحمیل شده پس چرادوپاي دیگرقرض نمیکند وطرف پاکستان فرارنمي کند باچهارپال نمي دزددوطرف روم پروازنمي کند ... اماعلت دراین جاي

نهفته است که نجیب برده اختیاري وبادارش زیرك وچالاك است پس خوشابحال این قسم برده وبرده دارکه هردو ازهمدیگرراضي باشند ... وتوصیه من این است که نباید زعیم هاي جهادي قسمیکه سروصداها هرجابلند است به گپ هاي پوچ ولاف وگزاف نجیب گوش دهند وشرمندگي اینکه نصیب نجیب شده است برجان خودبچسپانند زیراکه ازقدیم گفته اند

مکن با کودك و با برده بازي
ندارندکاري جزشرمنده سازي

متوجه شدن وگوش دادن به گپ هاي نجیب برده ومذاکرات صلح وحل سیاسي وغیره هم بازي بابرده بوده وجز شرمندگي درپیش ملت مسلمان افغانستان وبازي به خون یك ونیم ملیون شهیدباعزت افغانستان حاصل وثمره اي ندارد .

وازهمه بهترهمان سنت قدیمي افغانها ست که عبارت از ادامه جنگ تاشکست دشمن قسمیکه باانگلیسها جنگیدند وآنهاراشکست دادند ، بابادارنجیب جنگیدند وآنرا شکست دادند بابد بابرده اختیاري روس ها هم بجنگند وآنراهم به جهنم بفرستند و قدرت خودرا که هماناقوت اسلام است ثابت سازند تاجهانیان بدانند که واقعاً اسلام مي تواند برکفرغالب شود درغیر آن بجز ازشرمندگي دربرابرجهان ازجهاد چهارده ساله مان ثمري نخواهیم داشت

خوشبخت کسیکه بردگي وآزادي رابداند ودر دام برده داران نیفتد به امید پیروزي اسلام وانقلاب اسلامي افغانستان وبرچیدن بساط بردگي اجباري واختیاري درسراسرجهان .

رفسنجاني رئیس جمهورایران پرواز طیارات اسرائیل درحریم هوائي عراق رامحکوم کرد

علي اکبر هاشمي رفسنجاني رئیس جمهورایران پروازطیارات اسرائیلي برفراز خاك عراق را که دراین هفته انجام شد ونیز اقدام مهاجرین یهودي راکه خانه هاي عرب هارا درشرق اسرائیل اشغال کرده اند محکوم کرده است .

رئیس جمهورایران که درمراسم نمازجمعه درتهران صحبت میکرد همچنین دولت هاي عرب رابدلیل آنچه که آنراقصور درعکس العمل به این حادثه هاخوانده موردحمله قرارداد .

طیارات ترکیه مواضع چریکهاي کرد را در داخل خاك عراق بمبارد مان نمود

مسعود یلماز صدراعظم ترکیه میگوید : طیارات نظامي ترکیه ازسرحد عبور کرده درشمال عراق مواضع چریکهاي کردجدائي طلب را بمباران کرده اند .

یلمازگفت : حمله علیه حزب کارگران کرد درفاصله هفت کیلومتري یك شهرمرزي ترکیه صورت گرفته است وبه تلافي قتل یازده سربازکرد توسط جدائي طلبان کرد دراغازهفته گذشته بوده است .

نیروهاي مسلح ترکیه درماه اگست گذشته نیز علیه جدائي طلبان کرد درداخل خاك عراق به عملیات وسیعي دست زده بودند .

پدي برخليك ټاكونكو شيبوكي چي پښيالو مجاهدينو چي په سركي يې د اسلامي حزب سرښندونكي غازيان قرار لري نظامي اداته په خورا چټكي سره دافغانستان په ګڼو ولاياتو كښي دنجيب دشرف پلرونكي رژيم له پاره كاله دراغوروځولو په هيله رواته اويه زره پوري ټايج پري مرتب شوي چي لا به نور هم بوچتك مثبت فرجام شيبي را لندي اودلكو شهداوو اوميليونونو مهـ مرواوده ګرداسلامي امت دكلونو كلونو اسلامي آرمان به چي په افغانستان كي دمجاهدينو په لاس د اسلامي نظام جوړول دي ترسره شي ، يوځل بيانړيوال كفر چي په راس كي يې دنوي نړيوال نظام جوړونكي (امريكا) واقع ده سياسي ماشين په حركت راوستي اودافغانستان دلانجي دسياسي انتقا په اروند نوي نوي پيشنهادونه وړاندي كوي دكوئيار دپنځه فقره ايز پلان داعلان اوپدي اره داسلام آباد اوتهران دكانفرانسونو نه وروسته په ماسكو كي دامريكا اوروس دخارجه چاروزيرانو په افغانستان كي په راتلونكي جنوري كي په متقابلو اقطابو دوسلو اونظامي تداركاتو دانسداد داعلان نه دادي يوځو ورځي وروسته په نيويارك كښي دروس ديهرنيو چارو وزير بوريس پنكن دامريكا يې مقاماتو له ديد واديد نه وروسته دافغان‌كښالي دسياسي حل په باب نوي

آيااوراوبه يوځاي كيداي شي ؟

غلام حضرت "شاكر"

وړانديزكري. دبي بي سي راديو د دروان كال دتلي دمياشتي په لسم ماښام په خبرونو كي وويل : بوريس پنكن دروس خارجه چاروزيروړانديز كړي چي دافغانستان بحران دحل په اړوند دي ديوي انتقالي دروي لپاره دمجاهدينو له مشرانو نه يومشر دعبوري حكومت دمشرپه توګه راوړاندي شي چي دلاسپوځي رژيم صدراعظم فضل حق به يې دصدراعظم په حيث وي چي ددوي په اند هغه يوغيرګوندي سړي دي اوكه مجاهدينو ته هغه دمنلووړنوي نوبيادي په يوبل الترناتيف موافقه وكړي چي په هغه كي به دافغان داوسني ربري مسؤل (ظاهرشاه) درئيس په توګه راوړاندي كيږي او په تركيب كي به يې غرب ته تيښتيدلي زاړه داره ماران شامل وي اوبيا به دملګروملتوترڅارني لاندي دانتخاباتو كمپاين عملي كيږي اوځاي به يې يومنتخب حكومت نيسي.

داهغه وړانديز دي چي دنړيوال ښكيلاك له لوري كله دتكنوكراتانو كله ددريم ګړي اوكله ديراخ بنسټه ميكانيزم ترعنوان لاندي په پارو پارو اعلان شوي اوزمزمه شوي . خوداځل په ځه متغيروالفاظو كښي دبوريس پنكن په خوله وړاندي شو. چي الحمد لله دمجاهدينو دمشرانو لخوا دپخوا په‌شان ترديد شو او ددوي دا ترديد به حتما ملي ګرامشران هم تراغيز اوشعاع لاندي راولي او ددي وړانديز له منلو به ډډه كوي.

دپنكن دغه وړانديز ددغواهدافو دتحقق په اسره شوي:

١- امريكا اوروس غواړي ددغه وړانديز ونو په تعميل له مجاهدينو ځخه دنجيب دمنسوبينو اوغرب مشر به عناصروسره دګډ حكومت دجوړولوشرعي مجاز سند ترلاسه كړي .

اوپدي ترتيب ددغه ډول مختلط رژيم ددايمي پايښت لاملونه برابر اودمسلمانانو په شرعي پرتجيونو ولاړ دمخالفت لاري چاري بند ي كړي اوديو سوچه اسلامي نظام مخه ونيسي . او كه خداي (ج) مه كړه مجاهدين ددغه ور اشتيا مرتكب و ګرځيدل نودا په حقيقت كي ددي معني لري چي ګواكي دسيكولر اوكمونيستي عناصروسره مخلوط حكومت جوړول دشريعت له اصل سره منافي عمل نه بلكي جايز كاردي اوورسره مخالفت بغاوت ګڼل كيږي.

